# ستوري مجله دريیمه ګڼه
# ۲۰۰۸ ع کال

# Stori Magazine first year, Third Issue! April-May 2008



# STORI ستوري


خپلواکه، کولتوري او ادبي خپرونه

لومړی کال، دریمه ګڼه، ثور_جوزا ۱۳۸۷ل/اپریل_می- ۲۰۰۸م کال

**د امتیاز خاوند**

د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنه

**مسوول مدیر**

عرفان الله کوټوال /0772931465

**مرستیال**

هدایت الله حیات /0774322484

**کتنپلاوی**

بصیر بیدار ستوری، محمد داود صدیقي، عصمت الله ملنګ، فضل الهادي عاصم، میر سلام مجاور، ګلرنګ کوچوان

**سلار کاره ډله**

مرستیال څېړونکی وجیه الله شپون، عبدالقیوم زاهد مشواڼی، شفیع الله تاند

**همکار غړي**

رحیم الله خان، داود شاه داود، صادق فقیر، رضوان الله شپون

**کلنۍ ګډونبیه**

افغانستان کې: ۲۰۰ افغانۍ

پاکستان کې: ۲۵۰۰ کلداري

په نورو هېوادونو کې: ۵۰ امریکايي ډالره

**د یوې ګڼې بیه:**

افغانستان کې ۲۵ افغانۍ

پاکستان کې ۳۰ کلداري

"ستوري" ستاسو خپرونه ده، ستاسې لیکنې، نیوکې او وړاندیزونه په ورین تندي منې


## فهرست


| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| سرلیکنه | ۱ |
| اسلام زموږ نه څه غواړي؟ | ۳ |
| باچا خان ستر لارښود | ۷ |
| ښاپېرۍ | ۱۱ |
| انټرنېټ او د کتاب ارزښت | ۱۶ |
| بیا هم د یوې مړې ډوډۍ سوال | ۱۹ |
| شاداب د ژوندانه شاعر | ۲۳ |
| ترخه خاطره | ۲۶ |
| کونړ د تاریخ په اوږدو کې | ۲۹ |
| د کونړ سیند تاریخي پس منظر | ۳۲ |
| د ستورو قافلې | ۳۷ |
| په کونړ کې د کونړ سیند مشاعره | ۳۹ |
| د ستورو کاروان | ۴۱ |
| ځوانان او مخدره مواد | ۴۷ |
| د خاص کونړ په ولسوالۍ کې | ۵۰ |
| مرکه | ۵۲ |
| په المان کې کونړ سیند | ۵۴ |
| په خلیج کې ادبي هلو ځلو ته کتنه | ۵۷ |


## خبرتیا:

ستاسې ژبه، زموږ غوږ د لیکونو او ځوابونو لړۍ هر څوک کولای شي چې په دې لړۍ کې خپل وړاندیزونه، نیوکې، مشورې او پوښتنې راواستوي، چې ځواب به یې په ورین تندي ترلاسه کوي. دا خپرونه د ستورې مجلې له خوا ستاسې د دیني او اجتماعي مسایلو حل ته ځانګړې شوې ده، چې په راتلونکیو ګڼو کې به یې ځوابونه ترلاسه کړئ.



سرلیکنه

# ځیني کلتوري توکي د بدلون په لور

د هر نوي سبا په راختلو یوه نوې اندېښنه زېږېږي.

د پښتنو دسیمو او د ژوندانه دچارو لرغوني کلتوري توکي د پخوا په پرتله ورو ورو خپل رنګ بدلوي، چې دغه اوښتون به زموږ کلتور زیانمن او هم به مو قبیلوي، سمتي او فرهنګي هویت د پښو ځنې لاندې راولي لکه: دقبیلوي جوړښت لرغوني دودونه، لباسونه او د ژوندانه نورې چارې.

لې پخوا به دپښتنو د واده کولو دستور او رواج داسې و، چې د ناوې په راوستلو به څو ورځې د شاهو د کورني په حجره او دېره کې د لرې لرې راغلې مېلمانه، خپل او خپلوان او همدا شان یاران او دوستان په مرکو، جرګو او حتی په ځانګړیو لوبو مشغول وو، فولکلوریکي کیسې به اورول کېدې، نقلونه به ویل کېدل او همدا شان به د لرغوني موسیقي الاتو پر مټ ساعت تېري کېده.

اوس اوس ددغه ټولو ادبي ارزښتونو ځای د (CD) سي ډي، ډي وي ډي DVD او وي سي ار VCR نیولی دی، چې په دې سره زموږ د وګړیو د شفاهي ادب او فولکلوریک ادب برخې له منځه تللو په لاره پل ایښی دي، چې پایله یې د شفاهي او فولکلوریک ادب د انتقال قوه د منځه تلل دي.

ددغه انځوریزو ماشینونو بده اغېزه دا ده، چې د وګړیو یواځې د لیدلو حس پکې مصروف وي او بس. نقلونه، کیسې، متلونه او فکاهي وړیکې نه ځایېږي، بلکې هر وخت چې دغه انځوریزه ننداره پای ته ورسېږي، بس هر څوک خپله مخه کوي.

د انځوریزو ساعت تېریو بله بده اغېزه زموږ پر کلتوري ارزښت (لباس) هم پرېوزي، چې زموږ راتلونکی کول د یوه بېګانه کلتوري لباس پر خوا هڅوي.





همدغه راز نور په لسګونو کلتوري برخې دي، چې د ځینې عواملو له امله په بله خوا روان دي.

اصلي موخه د خپل کلتور له ساتلو څخه د خپل هویت او شناخت ساتل دي، چې مونږه به بیا یوه یا څو پېړۍ وروسته وګړي څنګه پېژني، چې پښتانه یعنې څوک؟

د کلتور سرېېژه مو لا د ژبې په کاله نورې ژبې راګډې شوي دي او هره یوه غواړي، چې له پښتو سره په یو نه یو ډول ځان شریک کړي او ددې ژبې د ویناوالو په خولو کې ځانله ځای جوړ کړي او د پښتنو په ژبه راڅګندې شي. د پښتو په ویناوالو کې داسې وګړي د ګوتو په شمار دي، چې د خپلې ژبې په ګرامري بنسټونو برلاسي دي.

نړدې زیاتو کلتوري توکو تجارتي بڼه غوره کړې ده او د شناخت او هویت سوال له پامه غورځېدلی دی، چې په دې سره یواځې یو څو کسانو ته د ذمه وارانو په سترګه کتل کېږي، چې په دې سبب تراوسه پورې لا پښتانه څوک د حق خاوندان نه ګڼي او د ټولو شرعي او وضعي حقوقو څخه یې بې برخې پرایښي دي، نو که په شریکه ددې موخې لپاره چې د پښتنو کلتور ته په درنه سترګه وکتل شي، د تعلیم متوازن حق ورکړل شي، د خپل کاله واک ورکړل شي او په عنعناتو یې بې ځایه تېری ونه شي، کار وشي ښایي چې خپل هویت په نړۍ او سیمه کې ثابت وساتي.

د یوه سوکاله، خپلو که او پرمختللي افغانستان په هیله

اداره





قاري منیر احمد تسل

# اسلام زموږ نه څه غواړي؟

لکه څنګه چې د هرې برنامې او هرې مبارزې تر شا یو راز پروت وي، چې ځانګړې مرامونه او ځانګړی هدف لري، نو همدا ډول زموږ اسماني دین او د هغه احاکم ځانله ځانګړنې او غوښتنې لري. یواځنی هدف د اسلام د دین، د نړۍ د بقا نقطه ده او په نړۍ کې د نظام د برهم کېدو د مخنیوي یواځینۍ نسخه ده.

د بشریت د ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وینا ده، چې: په ځمکه باندې قیامت نه راځي، ترڅو چې د الله ج والا خلک پکې وي. مطلب دا چې له الهي ارشاداتو سره سم د الله ج نیکان بنده ګان هغه څوک دي، چې د الله ج او د هغه د رسول ص تابعداري وکړي. نو معلومه خبره ده، چې اسلام د الله ج او د هغه د پیغمبر د تابعدارۍ دین دی. همدارنګه الله ج فرمایي: ربما یودالذین کفرو لو کانو مسلمین. سورت حجر، ۲ ایت.

ژباړه: ډېر ځله به ارمان وکړي هغه کسان چې کافران دي د قیامت په ورځ، چې کاشکې چې مونږه مسلمانان وی او کاشکې چې مونږه اسلام قبول کړی وای.

نو عزتمندو دا دومره بهترین دین دی، چې کافر به هم ددې ارمان کوي. له دې امله حضرت عمر رض فرمایي: (انما ینقض الاسلام عروة، عروة من لم یزق مرارة الجاهلیة).

ژباړه: یقیناً اسلام هغه خلک کړی په کړی ختموي چا چې د جاهلیت زمانه نه ده موندلې، یعنې مطلب دا چې د دین اسلام قدر د هغه چا سره دی، چې هغې باندې د جاهلیت زمانه تېره شوې وي لکه صحابه کرام، چې هغو سره د اسلام د دین ډېر قدر و.

د اسلام دین دومره بهترین دین دی، چې یو مسلمان ته یې څومره عزت ورکړی دی؟ حدیث شریف کې راځي، د الله ج په نزد یو مسلمان له ټولو کافرانو غوره دی. همدا شان یو بل حدیث کې راځي، چې یو مسلمان به د کافر په بدل کې نشي وژلی او بل حدیث کې راځي، چې الله ج مومن او کافر دواړه په اور کې نه جمع کوي، نو زما عزتمندو دا دومره عزت، چې الله تعالی مسلمان ته ورکړی، دا یې یواځې او یواځې د اسلام له امله ورکړی دی.

عزت صرف د الله تعالی په دین کې دی،

د کرنې څانګوال د کوکنارو کر او د کرنې په برخه کې د ګروندګرو ستونزو ته د دولت نه پاملرنه د اوړو د بيې د لوړوالي د ستر لامل په توګه يادې کړې او پر دولت يې نيوکې کولې، چې که يې د کوکنارو د کر په مخنيوي کې ګټور او عملي ګامونه پورته کړي وای او هم يې کروندګرو ته د بديل معيشت سمه زمينه برابره کړې وای نن به له دې ورځې سره نه وو مخ.

سوداګر به د سوداګرۍ په برخه کې د دولت نيمګړتياوې په ځانګړې توګه د اوړو او نورو خوراکي توکيو د واردولو په برخه کې د دولت له نه پاملرنې او د ګاونډيو هېوادونو له لوړو ماليو او



ټکسونو سر ټکاوه، د نوموړي په وينا ګاونډي هېوادونه دومره ټکسونه ترې اخلي، چې د اوړو له اصلي بيې يو نيم برابر زيات وي.

دی وايي پاکستان د تورخم په پوله د اوړو د هرې سل کيلويي بورۍ په سر ۷۲۰ کلدارې ټکس اخلي، چې دا له نورو ټکسونو پر ته يو ډول بېل ټکس دی. ياني له دې پرته نور ټکسونه هم ترې اخيستل کېږي او چې د موټر کرايه او د افغانستان ګمرکي محصولات پرې ور زيات شي؛ نو خبره ان ۱۴۴۰ کلدارو ته رسېږي. د هغه په وينا د وړو سل کيلويي بورۍ، چې په ۲۵۰۰ کلدارې يې اخيستې وي تر کابله ورته په ۴۰۰۰ کلدارې تمامه شي او بايد، چې لږ تر لږه په ۴۵۰۰ يې وپلوري؛ خو دوی بيا هم له ولس سره ښه کوي، ياني په تاوان او يا يې سر په سر پرې پلوري.

ډېر پخوا مې په يوه ليکنه کې لوستي ول، چې که د جنوب لوېديځ په ډاګونو کې غنم ور کرل شي؛ نو د سلو ميليونو انسانانو اړتياوې به پوره کړي؛ خو له بده مرغه، چې تر اوسه يوه دولت هم دې ټکي ته پام ونه کړ.





د ولسمشر جلالت مآب کرزي دولت له خپلو لومړنيو ورځو راهيسې په يوه کار کې د تېرو ټولو حکومتونو او پخپله ولسمشر د بل هر ولسمشر ريکارډ مات کړی او هغه تشې ژمنې او غټې غټې خبرې دي.

وايي، چې ښاغلي ولسمشر د ښوونځي وړو ماشومانو ته وينا کوله او د خپل عادت له مخې يې د هاغه و دغه کولو ژمنې وکړې؛ نو د زده کوونکيو له منځه يوه وړوکي ماشوم ولسمشر ته وويل، چې وعدې ډېرې کوې تر ننه دې يوه هم عملي نه کړه...

په رښتيا هم، چې ولسمشر په تېرو شپږو کلو کې ډېرې ژمنې وکړې؛ خو خدای جل جلاله خبر، چې د عملي کولو وخت به يې کله راځي.



هسې خو د ښاغلي ولسمشر وعدې ډېرې دي؛ خو يوه وعده يې، چې په کراتو ولس اورېدلې هغه د غنمو په برخه کې ده، هر کله، چې د غنمو د کموالي، نشتوالي او د بيو د لوړوالي خبر ورکول کېږي؛ نو ولسمشر او يا هم د هغه اړوند وزير او نور چاروا کي په لنډو ورځو کې د ستونزې د هوارولو ژمنې کوي.

اوس هم، چې په هېواد کې د وړو بيې د چا خبره له اسمان سره خبرې کوي دولت ددغې ستونزې د له منځه وړلو غوړې غوړې ژمنې کړې، د چارواکيو په وينا دولت دې ستونزې ته جدي پاملرنه کړې او ډېر ژر به يې حل راوباسي؛ خو د افغانانو له بده شامته، چې دا هم د تېرو هغو په څېر هسې د خولې خبرې دي.

د سوداګرۍ وزير امين فرهنګ همدا ستونزه په ګوته کړې او له نړيوالو يې د بيړنۍ مرستې غوښتنه کړې. د هغه په وينا افغانستان دا وخت څلورښت لکه ټنه غنمو ته اړتيا لري.





امين فرهنګ ددغې ستونزې د حل لپاره د اتيا ميليونو ډالرو غوښتنه کړې. امين فرهنګ په نژدې راتلونکي کې د قحط اندېښنه هم ښکاره کړې.

دا مهال، چې په هېواد کې په زرګونو غټې او وړې انجيوګانې فعاليت کوي ښايي د خوراک نړيوال سازمان WFP د دولت دې غوښتنې ته ټټر ووهي او اتيا ميليونه ډالر ورکړي؛ خو دلته بله ستونزه هم شته، هغه دا چې د اداري فساد له برکته!! په اداره کې داسې ښاماران ناست دي، چې سپېره وژني او ورګه يې په مزد کې اخلي؛ نو دا پيسې به هم: لکه د نورو ډېرو مرستو سل ځايه ووېشل شي او په پايله کې به د اتيا ميليونه ډالرو پر ځای د اتيا ميليونو افغانيو غنم وپېرودل شي او هغه به هم د چارواکيو پر خپلو خپلوانو، واسطه دارانو او زورورو ووېشل شي. که بيا هم چا د غنمو د نشتوالي يا له لوړو بيو څخه سر ټکاوه؛ نو بيا به وايي، چې موږ خو د اتيا ميليونو ډالرو غنم وارد کړل؛ خو چې تاسې ډېره خورئ او د يو کال غنم مو په څو مياشتو کې نوش جان کړل دا مو خپله تېروتنه ده. يو متل هم ورته لري، چې د خدای جل جلاله وړي دې خدای ماړه کړي.

سړی هک حيران شي، چې دولت نړيواله ټولنه چاته وايي؟ شتمن او بډای هېوادونه، چې له وړيو او خوارو هېوادونو سره مرستې کوي تيار زموږ کور ته راغلي دا چې هر يو يې په پوځي برخه کې د ورځې په ميليونونو ډالر مصرفوي، ولې زموږ د خېټې غم نه کوي؟

دوی، چې دا دومره پوځي وسايل له ځان سره راوړي او هره ورځ په لسګونو ټنه خوراکي او نور شيان د ځان لپاره راوړي آيا نشي کولای، چې موږ ته غنم راوړي؟

کاناډا، چې د ايساف په ليکو کې فعاله ونډه لري هر کال په زرګونو ټنه غنم په درياب کې غورځوي، که يواځې همدغه غنم موږ ته راولېږي کېدای شي زموږ اړتيا پوره کړي.

زه د يوه نالوستي افغان په توګه له جلالت مآب حامد کرزي څخه دا هيله کوم، چې لومړی خو د کرنې او سوداګرۍ وزارت په چوکاټ دې ستونزې ته دايمي حل راوباسه او که دا وړتيا نه لرئ همدغه بهرني مېلمانه له غوږه ونيسه او د خپل ملت لپاره يوه مړۍ ډوډۍ ترې واخله





محمد داود وفا

# شاداب د ژوندانه شاعر

**يادونه: دا مقاله په هغه غونډه کې چې ننګرهار ادبي بهير د شاداب کتاب د مخکتنې په پار رابللې وه، لوستل شوې ده.**

د ښاغلي شاداب د کتاب د مخکتنې په غونډه کې د ګډون په باب راته همدا نن وويل شول او بيا دده د يوه کتاب (چې پسرلی شي) په راکړه رانه د څه ليکلو غوښتنه هم وشوه، چې په منډه منډه مې دا څو کرښې وليکلې.



د ښاغلي شاداب وروستۍ شعري ټولګه دده له مخکينو هغو نه لويه ده، ما دده مخکينۍ يوه شعري ټولګه هم لوستې وه او په لوستو مې يې د هماغه خوږو احساس کړی و، چې د پېښور و مردان او سوات سيمې د ځينو نورو شاعرانو په شعرونو کې مې څکلی و.

شاداب په ډېره نرمه او پسته ژبه د ژوندانه په دغه ستړې لار ګام ايښی او دا ګام دا دی اوس ګامونو ته ورسېد او لا هم تمه شته، چې منډه به ترې جوړه شي، خو دا تش ګامونه نه دي دا د پښتو ژبې او ادب د پراختيا او پرمختيا ګامونه دي او زموږ د تازه غوړېدونکي فرهنګ د تلپاتېينې ژوندۍ هڅې دي.

د شاداب کمال دا دی، چې د شعر ژبه یې ساده ده، په تېره د غزلو ژبه. ده په غزل کې د پوره خوند یو کیفیت ورننه یستی، که نه نو دا وګورئ:

وختـي دې څنګـه غریـو نیـولی راکاتـه ووایـه
د زړه خبـره راتـه خامخـا پـه خولـه ووایـه
واړه همزولـي راتـه وایـي چـې دا مـخ دې ولـې
زه ورتـه څـه ووایـم یـه جانانـه تـه ووایـه

تر پایه...

شاداب د ځینو نورو غوندې زړو بیولالو ته ناست نه دی، هڅه یې کړې چې نوې خبرې او نوي انځورونه خپلو اورېدونکیو او کتونکیو ته وښيي.

سـتا عقیـده هـم بـده نـه ده نـاروا ده ګنـاه
خـو بعضې وخـت پـه دیـن اسلام کـې هـم روا ده ګنـاه
ارمـان دې سـر شـو حـج تـه لاړې ښـۀ شـوه نـوم دې وشـو
خـو دلتـه دومـره باریکـات دي چـې همـدا ده ګنـاه

او یا دا چې:

هغـه د راتلـو نـه ده، خـو پـه تلـو کـې مرنـۍ ده
دروغـو تـه یـې پرېـږده پـه وعـدو کـې مرنـۍ ده
رقیـب تـه پـه غېـرت کـې د راتلـو بـاور یـې نـه کـړم
خـو دا مـنم چـې مـا سـره پـښتو کـې مرنـۍ ده




شاداب سره له دې چې د اوسني افغانستان په حدودو پورې تړلی، خو ده په شعر کې زموږ د اوسني هېواد د رنګ او خوند ترڅنګ د کوزې پښتونخوا د سیمې شاعرانه انځورونه او چاپېریالي اغېز هم ښکاري، دا اغېز ځکه د یادونې وړ دی، چې د کوزو پښتنو د غزل تجربې نسبتاً په موږ پورې پخې او درنې دي او دا موږ د هغه سیمې د ګڼو شاعرانو په شعرونو کې لیدلي، دا چې د شاداب په شعر د کوزې پښتونخوا د شاعرانو د شعر په څېر مینه ماتېږي، دا زما په نظر د شاداب لپاره وياړ دی.





ښـه شـوه چـې پـه شـا شـولې رانـه بـه درتـه ګورمـه
تـه بـه راتـه نـه شـې کتـی زه بـه درتـه ګورمـه

سـتا پـه مجبـورۍ پـسې بـه زه هـم غـاړه نـه وړمـه
نـه درتـه پیغـور کومـه نـه بـۀ درتـه ګورمـه

نـه رښـتیا پـه وړانـدې د ناترسـه ژړا څـه مانـا
څـه بـه دې وعـدې یـادوم څـه بـه درتـه ګورمـه

تر پایه...

د شاعر ښېګڼه دا ده، چې له ساده سیمه ییزو کلمو نه یې شعر جوړ کړی. دا سیمه ییزې کلمې کله کله موږ و تاسو په عادي ژوندانه کې هم کاروو، مثلاً په دوکان کې، په بازار کې، په حجره او جومات کې، د ډېرو شاعرانو دغه سیمه ییزو عادي کلمو ته پام نه شته، په شعر پسې یې باید د لغتونو کتابونه وګورو او یا له چا نه پوښتنه وکړو، خو شاداب د ځینو نورو پرخلاف هماغه د کلي او حجرې کلمې رااخیستي او شعر یې ترې جوړ کړی. زما په نظر همدا ډېر سخت کار دی، ځکه ډېرو نورو نه دی کړی او یا یې نه شي کولای، خو ده په ډېر ښه کیفیت ترسره کړی. لکه دا غزل:

پـه هـر نظـر کـې د معنـو نـه دې مـا مـه خبـروه
بـس خـو د زړه د درزېـدو نـه دې مـا مـه خبـروه

چـې ارمانونـه مـو رنـګ نـه راوړي همداسـې ښـه یـو
پـام چـې د راز د شـوګیرو نـه دې مـا مـه خبـروه

شاداب ځینې شعرونه د خپلې رسمي دندې پر وخت لیکلي او په شعر کې یې دا اغېز هم خوندور دی:

د غېـر عـسکره خرابېـږې چېرتـه غـاړې تـه شـه
کـه پخپـل سـود و زیـان پـوهېږې چېرتـه غـاړې تـه شـه

زمـوږ سـرباز خـو کـه سـرباز وي د جنـت پـه مینـه
خـوار شـې نـو تـه خـو مردارېږې چېرتـه غـاړې تـه شـه.

په دومره لنډ تنګ وخت کې به کېدای شي چې د شاداب په خوندوره شاعرۍ بحث کول اسانه نه وي، زما دا لړ څه دې په ډېرو ومني.

***





سید عبیدالله نادر

# ترخه خاطره

یوه شپه دمخه په کلي کې سخته بمباري تېره شوې وه، چې زه کلي ته راورسېدم، کلی په لویو کنډوالو بدل شوی و او د کنډوالو له منځ څخه چې د لویو ځاګانو په شانې وو، لوګی خاته، چې د درنو بمونو د ارتولو څخه منځ ته راغلي وو. شاوخوا درنه چوپتیا وه، چې ډارونکی حال یې درلوده او داسې ښکارېده، چې د بېګناه خلکو د وېال نتیجه ده.

کلي ته نږدې کمرونه وو، چې د کمرونو لاندې سیند غځېدلای و، چې ارامه څپې پکې بې خبره له هرڅه لکه د پخوا په شان پورته کېدې او تا به ویل، چې هېڅ یې نه دي لیدلي. د سیند د اوبو او څپو شرهار دنسیم په چلېدو سره له لیرې څخه غوږونو ته رارسېده.

د توتانو وخت و او د بمبار د دهشتناکه اواز او تکان تا به ویل، چې د خوراک لپاره ځنډل شوي دي. څو ګامه وړاندې مې مات کنډولي او منګي تر سترګو شول، داسې راته وبرېښېده چې ګنې نجونې د اوبو راوړلو په حال کې وي، چې د روسانو وحشیانه بمبارد پیل شوی دی، خو په کنډولیو کې د اوبو یا نم اثر نه لیدل کېده. له بلې خوا وړاندې برجونه ټول نړېدلي وو.

برجونه او دېوالونه داسې نړېدلي وو، چې سپینه رڼا ورځ کې یې دهشتناکه ښه غوره کړې وه. د برجونو مخې ته دېره وه، چې همدا د توتانو ونې پکې ولاړې وې او د ونو لاندې کټونه ایښودل شوي وو. په کټونو لا واسکټونه او څادرونه پراته وو، داسې ښکارېده چې د کلي خلکو د بمبار له امله ځنګل ته پناه وړې وه.

په ډېره سړه سینه مې غوږ ایښی و، چې ګونډې د چال غږ یا کوم اشنا غږ مې تر غوږ شي. داسې چوپتیا خوره وه، تا به ویل چې ټوله دنیا بیده ده.







له بمبار څخه دمخه به د دېرې په ونو کې تل د مرغیو، چنچڼو، مرغانو، بلبلانو او سارایي مرغیو اوازونه وو، خو د وحشیانه او درونډ بمبار له امله بلبلانو او مارغانو خپل ځای دې وحشیانو ته پرېښی و. ددې سهمناکه اواز له امله هومره لیرې تللي وو، تا به ویل چې نور له دې دنیا څخه وتلي دي. ځینې مالونه او څاروي د بې رحمانه بمبارۍ له امله ټوټه ټوټه پراته وو. هغه خوا په اخور کې چې د غټو توتانو لاندې وو او دېرې ته نږدې وو، د موږیو ترڅنګه پړي شلېدلي پراته وو. ځینې غویانو او نورو ځناورو خپل پړي شلولي وو او ځنګل ته یې ځغاستلي وو. داسې ددې وحشیانه بمبار نه وېرېدلي وو، چې خپل ځناورتوب یې له یاده وتلی و.

ځنګل کلي ته نږدې د سیند تر غاړه و، ما اورېدلي وو چې ډېر ځل به چې همداسې بمباري کېدله، دوی به د روسانو د بمبارۍ له امله له خپلې ټولې کورنۍ سره ځنګل ته پناه یوړه.

له کلاګانو څخه تېر شوم او د سیند خوا ته مې مخه کړه، خو لومړی د کلي د جومات دروازې ته مخامخ شوم، د جومات دروازې خولې ته یو جوړه زاړه بوټان ایښي وو، چې دا د همدې کلي د ملا و، چې ما یې پښو کې لیدلي وو.

لنډه دا چې په نرۍ لاره، چې ښي او کیڼ اړخ کې نړېدلي دېوالونه وو، خپل تلون ته مې دوام ورکړ، ترڅو سیند خوا ته لاړ شم. لا یو څو قدمه نه وم تللی، چې د دېوال له شا څخه مې د سپیو سینګهار تر غوږ شو، چې د دېواله تر شا واوښتم، کتل مې چې څلور پېنځه سپي د دېواله خوا ته غلي ناست دي، او په ډېر عاجزانه توګه ما ته ګوري. دا هغه سپي وو، چې په کلي کې به زمری هم راغی، نو په زمري باندې یې هم حمله کوله، خو د وحشي روسانو د وحشیانه بمبار له امله یې خپل سپي توب هېر کړی و او بیا په تېره د روسانو د ناپالم د بمونو دهشتناکه اواز او د روسانو د وسایطو غرهار دومره دوی وېرولي وو، چې د سپیانو په کتو کې تا

پښتونخوا څخه د پېښور سندرغاړیو ښاغلي سردار یوسفزي او ښاغلي خیال ګل په خوږو اوازونو ښکلی شوی و.

د مشاعرې په لومړۍ برخه کې د اطلاعاتو او کولتور د وزیر پیغام د کونړ د اطلاعاتو او کولتور د رئیس ښاغلي عبدالقیوم حکیمزي له خوا ولوستل شو.

دغه راز په هېواد کې دننه او له هېواد څخه بهر د لسګونو فرهنګي او ادبي ټولنو پیغامونه هم ولوستل شول.

د پروګرام دویمه برخه د مشاعرې وه، چې د مشاعرې پیل له مزار شریف څخه د ښاغلي شاعر ذبیح الله احساس په شعر سره وشو او ورپسې په ترتیب سره د ټولو سیمو شاعرانو ته د شعر ویلو بلنه ورکړل شوه.

د مشاعرې په پای کې ددې مشاعرې د منتظمینو له خوا څلورو هغو کسانو ته، چې د فرهنګ او کولتور په برخه کې یې د قدر وړ کارونه ترسره کړي وو، د سرو زرو مډالونه ورکړل شول.

په لندن کې د بي بي سي خبریال ښاغلي داود جنبش ته د شمس الدین مجروح، د کونړ والي ښاغلي سید فضل الله واحدي ته د عبدالخالق اخلاص، ښاغلي ډاکتر ابراهیم شینواري ته د ډاکتر کبیر ستوري او ښاغلي ډاکتر شېر ولي شېر ته د طاهر فرهاد د سرو زرو مډالونه ورکړل شول.

وروسته د کونړ د والي سید فضل الله واحدي له خوا استاد حبیب الله رفیع او استاد محمد اصف صمیم ته اعزازي پګړۍ ورپه سر شوې.

د مشاعرې شعرونه، لیکلي پیغامونه او ویناوې به ډېر ژر په کتابي بڼه چاپ شي.



لر او بر ټولو پښتنو شاعرانو لیکوالانو او ادیبانو د کونړ سیند د مشاعرې په جوړېدو د خوښۍ څرګندونه وکړه، ځکه که یو خوا کولتوري هلې ځلې وده مومي، نو له بلې خوا د شاعرانو ترمنځ پېژندګلوي او راشه درشه هم زیاتېږي.





# د ستورو کاروان

## د ادب سالار

### اصف میاخېل/څوکی

د ادب هر یو سالار رانه ورکېږي
ددې ژبې خدمتګار رانه ورکېږي
زما ستوری په پښتو باندې مئین و
د همدغه بڼ مالیار رانه ورکېږي
د رشاد پسې مې ډېره ژړا وکړه
د ادب سپېڅلې لار رانه ورکېږي
د غزل د تاترو پسې اوتر شوم
د حمزه د پټکي تار رانه ورکېږي
د ادب په مات درشل به پښه کېږدم
د فرهاد غونډې معمار رانه ورکېږي
زه له دغه ستړي ژوند نه په تنګ یم
قلم مات شي ستړی یار رانه ورکېږي
د پښتو سندرې نه راوړي تش راشي
دې خزان کې نغمه زار رانه ورکېږي
که دې بل ستوری له مانه خدایه واخیست
د ټول عمر انتظار رانه ورکېږي
د کاروان او د ساېل دواړو خبر غواړه
ای میاخېله یکه زار رانه ورکېږي

***

## غزل

### عرفان الله کوټوال

هیلې مې زړه کې ویلې کېږي ستر ګې وانهړوې
زما تصویر پکې ورانېږي ستر ګې وانهړوې

ستا د ښکلا په سمندر کې لاهو شوی یمه
د خیال کښتۍ مې چپه کېږي ستر ګې وانه ړوې

ستا د حیا خو بس هم دومره منتر بس دی کنه
زړه مې سینه کې قتل کېږي ستر ګې وانه ړوې

ما چې دروکتل خو ما به دا ګناه منله
یوه توبه راباندې کېږي ستر ګې وانه ړوې

خیر دی وربېږي دې پر ما خو ته بې غمه اوسه
پر ما دې غشي راورېږي ستر ګې وانه ړوې

ملالې ستر ګې چې لرې په زور یې هم خبر شه
د کوټوال ژوند پرې تمامېږي ستر ګې وانه ړوې

* * *





## غزل

### محمد داود صدیقي یوسفزی

ما لېوني ته به په څه تمام شي
ستا د ښاېست د هوسونو قیمت

دا مې په مینه کې خوښېږي اشنا
ورکوو یو بل ته د زړونو قیمت

په کال کې هره چارشنبه به ورځو
راوړو په لاس د زیارتونو قیمت

په دم دعا پسې به وخوځېږو
یو څوک به راکړي د سوالونو قیمت

صدیقي تاته خو څه نوي نه دي
تل دی بابللی د سرونو قیمت

***

## غزل

### عبیدالله سیلاب

یو څوک مې تصور نه ستا خیالونه رنګوي
زموږ د ګودرونو چینارونه رنګوي

چې کله په خوبونو کې هم ستا کلي ته درشم
غمونه دې اشنا راله خوبونه رنګوي
په ټپو، ټپو ستر ګو ما قدم پسې نیولی
غمازه شوه سیلۍ د یار منډونه رنګوي
په خوب کې راته راغله وایي خوله رانه وانخلې
ستا شونډې پاړ نیولې مې خالونه رنګوي

چې لیک دې کله کله زه په لاسو کې راواخلم
سیلاب زما د اوښکو ستا لیکونه رنګوي.

***

## غزل

### عبدالبصیر بیدار ستوری

زړه ته رانېږدې مې که د خپل حسن جلوه مې که
اور مې که، سکاره مې که او باد مې که اېره مې که
ټول لوګی، لوګی مې که نظر دې په ما مات کړه ته
دود د سپېلني مې که او پو مې که لمبه مې که
وګوره د خپل حسن تصویر زما په ستر ګو کې
مخامخ راکښه ځان دې جوړ کړه آئینه مې که
څومره چې د ناز او ادا زه وړم په خپل سر باندې
ته مې هم د خپلې غېږ رباب خوږه نغمه مې که
هلته مازیګر چې د ګودر غاړې ته راشي نن
بیا مې د منګي سره سندره که ټپه مې که
ما د خپل قاتل نظر په پنجو کې راونغاړه
ومې وژنه، قتل مې که ښه ذره ذره مې که
تنده چې پرې ماته د بیدار د ډېره عمره شي
مست مې که، غزل مې که، شراب مې که، نشه مې که

* * *

## غزل

### عصمت الله ملنګ

د زلفو څانګې دې ګلان پېژني
د شونډو څوکې دې پېزوان پېژني
د زړه کوڅې ته مې په منډه راشي
زما د زړه دنیا جانان پېژني
اند پښني سُر کړي د غمونو شپېلۍ
ځکه نغمې یې ټول جهان پېژني
د غم رباب د غم نغمه غږېږي
د درخو ستر ګې ادم خان پېژني
چې نوم دې واخلم د غزل په پانه
هر یو غزل مې عاشقان پېژني
عصمت ملنګ چې دې په شونډو شونډې
چې کله کېږدي ستا ایمان پېژني.

***





## غزل

### شرر ساپی

ښکلي چې هر خوا ته نظر واړوي
سم لکه خمان د کوثر واړوي
ستا د کرس خندا لکه د توري خرپ
ما او زما زړه به په شر واړوي
رابه وړي سپرلی د امېدونو رنګ
ډک به له ګلونو څادر واړوي
داسې معصوم ګوري ته وایې هېڅ نه دي
غلا به د زړه څوک په دلبر واړوي
دا خامې خولګۍ او دا اومه ښکلي
ما به د خپل هوډ نه اخر واړوي
وخت زموږ ملګری دی ساده یاره
جام به دې د کبر په سر واړوي
ماته مې جانان ستر ګو کې ودرېږي
لاس چې کوم مئین په دلبر واړوي
دومره به دې ښکل کړي چې اوتره شي
خدای به دې یو ځل په شرر واړوي.

***

## غزل

### حمید الله حمید

خوږلي مې په زړه پاخه داغونه دي
لیدلي چې مې ستا د مخ خالونه دي
تا چې په کوم وخت راته کتلي دي
جوړ مې په زړه ځکه پرهرونه دي
یاره دغه زما د زړګي وینې دي
سره چې دې پرې نن دواړه لاسونه دي
ما سره لا نور غمونه څه کوي
ستا د غمه جوړ راته غمونه دي
زړه د حمید ډک له ارمانونو دی
ورک ځکه د ستر ګو یې خوبونه دي.

***

## غزل

### عباد الله رنجش

کله مې زهر څکلي نه دي نن یې څکمه خدایه
چاته مې ځان ویلي نه دي نن ورځمه خدایه
بیا مې وفات کړه خو جانان مې یو ځل لاس کې راکړه
دا تمنا مې په دې خپل زړه کې لرمه خدایه
زه اوس ملحد که مسلمان یم خدایه نه پوهېږم
په لمانځه تا لره ولاړ څوک یادومه خدایه
د تصور په ټال کې جګ شوم د اسمان تر بریده
د ستورو کټ کې ورته نن شپه ورکومه خدایه
خلک جانان تلي په زړه کې زه زړ ګی نه لرم
زه یې د ستر ګو په پالیو کې تلمه خدایه
چې د رنجش د زړ ګي وینې له مداره وځي
د هر یوه څاڅکي یې د یار نوم جوړومه خدایه

* * *

## غزل

### ګلرنګ کوچوان

غمونو کې رالوی شوم کړاونو کې رالوی شوم
جانانه ستا د مینې په یادونو کې رالوی شوم
یم ځکه لېونی لوګی مې خېژي له ګو ګله
پردي وطن مېړو او په کمپونو کې رالوی شوم
منزل ته به رسېږي کله ای د بوډۍ ټاله!
دا ستا د رسېدو په ارمانونو کې رالوی شوم
دخاورو سره خاورې شو ښاپسته ښکلي ځوانان زړو
د کونډو، یتیمانو فریادونو کې رالوی شوم
دې خپلو عملونو خو کچکول کړه راتر غاړې
کله یو او کله بل ته په سوالونو کې رالوی شوم
ادب کلتور، فرهنګ مو په ټوپک باندې بدل کړ
تورتم توره تیاره او په جنګونو کې رالوی شوم
د چا سره هېڅ احساس د جوړېدو نه و کوچوانه
د وران وطن په ورانو محفلونو کې رالوی شوم

***

# د مهربان پلار سپیڅلي روح ته

**هدایت الله حیات**

زموږ دردونو ته درمانه پلاره
زموږ خواخوږی مهربانه پلاره
ستا د ژوندون یوه یوه خاطره
خیال ته رادرومي هرې خوا نه پلاره
راته د ستر خالق دا ستره نړۍ
نیمګړې ښکاري بې له تا نه پلاره
زموږ په ذهن کې هم ستا په لاسو
ډیوه د علم شوه روښانه پلاره

***

تا زحمتونه تکلیفونه ګالل
موږ ته دې ټول عمر خوښي راکړې
موږ دې له درده خبر کړي نه یو
راته دې هر وخت خوشحالي راکړې
هر درد او غم دې په خپل سر اخیستی
تا سوکالي تا ارامي راکړې
زموږ د هرې کامیابۍ لپاره
تا اطمینان تا تسلي راکړې

***

اوس چې ستا سیوری رانه لیرې لاړو
موږ خو د ژوند د غرمو تاب نه لرو
د ژوندانه د کتاب پاڼې لولو
خو د خوښۍ پکې کوم باب نه لرو
ستا له دعا نه چې محروم پاتې شو
لارې د هومره لوی ثواب نه لرو
پرته له تا به مو ژوند څنګه تېر شي؟
دغه پوښتنې ته ځواب نه لرو

***

دا چې د ژوند شېبې مو ښې تېرېدې
ستا دوعاګانې ستا برکت و پلاره
نن چې ثمر ته رسېدلي یو موږ
دغه برکت ستا د محنت و پلاره
یواځې موږ نه په زرګونو نورو
اخیستی تا نه تربیت و پلاره
ته یو معلم ته یو لارښود د خلکو
هره وینا دې سعادت و پلاره

***

تا د عرفان بلې ډیوې لپاره
د زړه په مینه پتنګان روزلي
د هر دردمند د پرهر ځړیکو ته دې
له عاطفې ډک طبیبان روزلي
ستا لوړ مقام ته هغوی سر ټیټوي
تا رئیسان تا وزیران روزلي
د ګران وطن د ترقۍ لپاره
تا د همدې خاورې بچیان روزلي





***

ته تر اتیا کالو اوښتی وې خو
غم دې د ځوان په شانته زور راکوي
بغېر له تا د ژوندون هره شېبه
راته سکروټې شیندي اور راکوي
ته چې په کومه ورځ له موږ نه لاړې
قسم په خدای که خوند خپل کور راکوي
موږ دې خدمت کې شپې شوګیرې نه کړې
ضمیر هر وخت راته پېغور راکوي

***

تاته له خدایه جنتونه غواړو
ځان ته توان چې ستا دوستان وپالو
کوښښ کوو چې د امکان تر حده
ستا د ژوندون یو یو ارمان وپالو
د هیلو بڼ کې هر یو ګل ګل به دې
د خپلو اوښکو په باران وپالو
چې ستا اروا ته پرې سکون رسېږي
موږ به هغه کار په ښه شان وپالو

* * *

# د زړه اواز

**سمیع الله ترون**

خدایه ښښنه درنه ډېره غواړم
ته زورور یې زور له تا سره دی
ستا له مخلوقه په زړه داغ لرمه
ددغه داغ ټکور له تا سره دی
د لېونی دونیا دې ونړوه
سیندونه ستا دي اور له تا سره دی
خوښه دې کوم یو چې رالېږې راته
زما تربور او ورور له تا سره دی

***

دا ګنګوسې مو له پخوا اورېدې
چې زموږ واک به بیا جلاد ونیسي
څوک به په خوا د مرده باد کې اوسي
څوک به طرف د زنده باد ونیسي
دا سپین لباس کې د لستوڼو ماران
رانه کابل نیسي بغداد نیسي

***

خوب مې لیدلی دی حېران یم ورته
تیاره راپورته شي او لمر وخوري
یوه بلا په منډه، منډه راشي
رانه سیندونه وخوري غر وخوري
یو څوک په چل د ابادۍ په نامه
زور رانه واخلي رانه زر وخوري
بیا رغونه که همدومره وي نو
دا څو پولچکه دې ستا سر وخوري

***





تا د طبیب نښان په توره والې
په هغه توره مسلمان وژنې
یو افغان غېږه کې نړدې کړې ځانته
په هغه بېرته بل افغان وژنې
خپل انجیل شا پورې تړلی ګرځې
خو لاروی د پاک قران وژنې
زما ازار دې لېونی کړه اشنا
چې په سوکانو باندې ځان وژنې

***

زما ولس نه دې څرمن وېستلې
خپلو بچو ته ترې خېمه جوړوې
له خپلې خونې سترې، سترې راغلې
زما په خونه کې دمه جوړوې
سپینې او تورې ټاپې تا سره دي
څوک خلیلزاد څوک اسامه جوړوې
ته د بدرنګه تاریخ توره څېره
دا څه بدرنګه ډرامه جوړوې

***

زما له سره یې غرور اخیستی
زما یې قام په زولنو تړلی
بس د خان ښه وایي ناري وهمه
لکه غلام په زولنو تړلی
زما ممبر یې په ګولو وېشتلی
زما یې امام په زولنو تړلی
بې ګناه زړه مې دی خپل سری جانان
لکه صدام په زولنو تړلی

***

## د نفاق لمبې

**سید عبیدالله نادر**

راځئ چې رنځ ته مو دوا جوړه کړو
د محبت لویه دنیا جوړه کړو
تر څو به سوځو په لمبو د نفاق
د ورورولۍ یوه غوغا جوړه کړو
د خپل تیاره ضمیر او زړه په کوڅو
د معرفت په نور، رڼا جوړه کړو
چې د کلنو پرهارو کړي علاج
دردمنو زړونو ته کیمیا جوړه کړو
که زړه جونګړه په جفا شوه ورانه
عزم وهمت باندې یې بیا جوړه کړو
سمبال چې نه وي د سینګار په هنر
د وطن ناوې به په چا جوړه کړو.

***

## خوشحاله ژوند

**نسیم ستوري**

خدایه! په دغه لارې بیا هغه کاروان راولې
زما د خوږ زړګي ارمان له ته درمان راولې

چې عبادت د مینې وکړي او اباد کړي وطن
ته خو واکمن زمونږه داسې انسانان راولې

مینه ښکلا شي او د زړونو مو ارمان پوره شي
زمونږ په زړونو کې د مینې یو باران راولې

چې د وحدت لاسونه ورکړي لر و بر پښتانه
په پښتون قام د خوشحالۍ داسې دوران راولې

دا نسیم ستوری به خوشحاله ژوند خوشحاله تېر کړي
چې په ژوندون یې دغې غېږې ته جانان راولې

***





**محمداجان یار**

# ځوانان او مخدره مواد

ځرنګه چې په نړۍ کې ټول اجتماعي او ساینسي پرمختګونه د انساني پوهې او زیار نتیجه ګڼل کېږي او د هر هېواد پرمختګ او ترقي د هماغې ټولنې د وګړیو او ځوانانو د ښې روزنې او تربیې پورې تړلې ده، په هره کورنۍ کې ماشوم د بل ځراغ په څېر دی، چې د کورنۍ نور غړي ترې لکه د پتنګانو غونډې راتاوېږي او نازوي یې.

همداسې ماشوم د سبا پلار، رهبر، پوه او د لوړ شخصیت خاوند ټولنې ته جوړېدای شي.

هوکې! د ماشوم تربیه او روزنه خورا مشکل کار دی، کله چې یو ماشوم د مور له غېږې نه د اجتماع او ښوونځي محیط کې قدم ږدي، روزنه یې لکه د لمدې پښتې په څېر وي. که ښه وروزل شي، د سبا ورځې ستر انسان جوړېږي او که په روزنه کې یې بې غوري وشي، د سبا ورځې لپاره ټولنې ته سخت خطر پېښولی شي.



درې لسیزې مخکې زموږ ځوانان له خپل هېواد څخه اواره شول او د نړۍ ګوټ ګوټ کې یې ژوند اختیار کړ. د پردیو کلتور لاندې راغلل، خپل فرهنګ او کلتور ترې پاتې شو، د خپل هېواد سالمې روزنې څخه بې برخې پاتې شول، د ژوند له سختو مشکلاتو سره لاس او ګرېوان شول. څه خو جنګ وخوړل او څه د بې وسۍ او ناداری په کړاو اخته شول. همدغه شان ډېری ځوانان په نېشه یي توکو روږدي شول، چې دا ټول د بې وطنۍ، بې کارۍ او بې غورۍ نتیجه ده. دا چې په تېرو دېرشو کالو کې د ښې روزنې او تعلیم و تربیې ځای جنګ جګړې ونیو او د ډز نسل رامنځته شو ددغه وخت ځوانان یواځې د

اداره

# د ستوري مجله په خپله دریمه ګڼه کې له یوه ولسي شاعر ښاغلي ثواب خاکسار سره مرکه کړې، چې کټ مټ یې ستاسي مخې ته ږدو.

پوښتنه تر ټولو دمخه که ګرانو لوستونکیو ته ځان په مکمل ډول ورمعرفي کړئ، خوښ به شو

ځواب: زما نوم ثواب او تخلص مې خاکسار دی، د ننګرهار د لرغوني او تاریخي ولایت د اچین ولسوالۍ مربوط د پېښې خوړ د پاخېلو په کلي کې په یوه مسلمانه او دینداره کورنۍ کې پیدا شوی یم.

لومړنۍ زده کړې مې د کلي په ابتدایه ښوونځي کې کړي دي، منځنۍ او ثانوي زده کړې مې د کابل ولایت رحمان بابا لیسه کې سرته رسولي دي او فعلاً د شینوارو د یوې ادبي ټولنې د مشر په توګه دنده پر غاړه لرم.

پوښتنه خاکسار صاحب! تاسې څه رنګه شاعرۍ ته مخه وکړه؟

ځ: محترم کوټوال صاحب! د ډېرو لاملونو له امله کېدای شي چې یو سړی شاعر جوړ شي، چې تر ټولو لومړی مینه ده، ولو که مینه له خپلې محبوبې سره یا له وطن او خاورې سره وي، یعنې د شاعرۍ سرچینه له مینې څخه اخیستل کېږي.

پ محترم خاکسار صاحب! تراوسه به دې څومره شعرونه ویلي وي او زیات شعرونه دې نظم په کوم قالب کې ویلي دي؟

ځواب: محترمه! د کله نه چې مې شاعري شروع کړې ده تراوسه به مې تقریباً د (۲۰۰۰) شعرونه ویلي وي.

پ ښاغلیه تراوسه مو کوم اثر چاپ شوی او که نه، که چاپ شوی وي نومونه یې راته واخلئ خوښ به شو

دا چې زما سره فعلاً ډېر شعرونه په لاس کې شته، خو د اقتصادي ستونزو له امله نشم کولای، چې ټول سره راغونډ کړم او کتابونه ترې چاپ کړم. یواځې یو کتاب مې (د کنډواله کور) په نوم د شعر مجموعه چاپ شوې، چې د چاپ لګښت یې حاجي عبدالظاهر قدیر پر غاړه اخیستی و.

پ په پای کې که د خپل شعر یوه نمونه ګرانو لوستونکیو ته وړاندې کړئ، ډېر به خوښ شو

ځ: ولې نه دا واخلئ:

## غزل

لکه د مورګې په سر واوره چې خروار پرته ده
داسې مې ستا مینه په زړه باندې امبار پرته ده

حال د ویلو نه دی ځکه د پښتو وطن دی
بل مې نېږدې خوا کې پلتنه[1] د اغیار پرته ده

د غمازانو مشغولا خو به دستي جوړه شي
که مسافه مې لا کاله ته دربار پرته ده

چې به په څه باندې راضي شي فکر وړی یم زه
د ګل دوه چند راضي بندي لا د ماليار پرته ده

لکه سګرټ خپلو جامو کې سراسر وسومه
د بدن هر یوه پرزه مې په انګار پرته ده

د پرهېز ماتې له حصې نه چې منکره نه شي
ستا په ښکلا کې یو څه برخه د بیمار پرته ده

زکات د حسن په قریبو باندې کېږي اشنا
ستا د کاله ترڅنګ جونګړه د خاکسار پرته ده.

***

[1] پلټنه: پوسته، پوځي اډه

## ډاکتر عبدالکبیر ستوری

**مطیع الله سراجه وال**

فنا شولي د مونږ نه ته رښا د پښتونخوا وې
ستوری د سبا وې
د پښتو ښکلی لیکوال وې کونړونو کې پیدا وې
ستوری د سبا وې

وقف کړی دې و ځان، تل خدمت کې د افغان
یووالی دې مرام و خدمتګار ته د ایشیا وې
ستوری د سبا وې

د قوم چې خدمتګار وې، وطن څخه تل ځار وې
همکار د پښتنو وې، دښمن ته یې بلا وې
ستوری د سبا وې

د پښتنو وې د سر سیوری، رښتیا وې کبیر ستوری
افغان ملت دپاره ته بېشکه ښه خیرخواه وې
ستوری د سبا وې

غمخور وې د ملت، تا ډېر کړی خدمت
حقیقي فخر افغان وې، ښه ملګری د بابا وې
ستوری د سبا وې

الله ته کړو منت، نصیب مو شه جنت
پراخه دې وه ټنډه هر وختې په خندا وې
ستوری د سبا وې

الله دې درکړي مغفرت، شه په اولاد دې رحمت
همدا سراجه وال درته هر وختې په دعا وې
ستوری د سبا وې

***





اداره






د لومړي ځل لپاره د المان د لیور کوزن په ښار کې د کونړ سیند مشاعره د سلګونو اروپا مېشتو افغانانو په ګډون جوړه شوه.

دغه مشاعره په جرمني کې د کونړ د ځوانانو د کولتوري ټولنې په زیار روان کال د مارچ میاشتې پر پنځلسمه نېټه د مازیګر پر پنځو بجو پیل شوه.

په پیل کې د قران کریم مبارک ایتونه تلاوت شول، وروسته د ګران هېواد ملي سرود واورول شو.

تر دې وروسته څو ښکلو ماشومانو له خوا د پښتو ښکلې ترانه (اې زما وطنه د لالونو خزانې زما) په خپلو ښکلو رغونو زمزمه کړه چې د ګډونوالو د هېوادنۍ مینې احساسات یې راوپارول چې د ترانې ډله یې په خپلو تودو چکچکو ونازوله.

وروسته ښاغلي سید رحیم یوسفي د ټولنې په استازیتوب ټولو ګډونوالو ته ښه راغلی ووایه، له دوی یې مننه وکړه چې په دې مشاعره کې د ګډون لپاره له لرې لرې ځایونو راغلي.

تر ده وروسته فریدالله ساپي د ټولنې د کاري سفر او فعالیت راپور او همدارنګه د مشاعرې دجوړېدا د موخې په اړه ګډونوالو ته مالومات ورکړل.

تر دې وروسته ښاغلي انجینر غفار



ستارزوی د کونړ سیند د سیاسي، جغرافیایي او اقتصادي ارزښتونو په اړه هراړخیزې خبرې وکړې، چې د اورېدونکو



لپاره ډیرې په زړه پورې دي.

له افغانستانه راغلي مېلمه استاد اسماعیل یون هم په خپل وار د افغانستان او کونړ ته د خپل سفر په اړه ګډونوالو ته وړغېدی، ده همدارنګه ډېره خوښي وښوده چې په داسې یوه غونډه کې ګډون کوي چې له هېواده لرې افغانان راټول شوي او یو بل ته خپل زړونه تشوي.

د غونډې د دې برخې په ورستیو شېبو کې اغلې زرغونې ژواک د داسې غونډو د جوړېدو او ارزښت په اړه په زړه پورې خبرې وکړې، نومورې ووېل چې داسې غونډې د افغاني فرهنګ د ساتنې، د ځوانانو د روزنې... لپاره ډېرې مهمې دي. اغلې ژواک د دې غونډې په وياړ د خپل پلار او د پښتو د پیاوړي شاعر او لیکوال اروا ښاد محمد دین ژواک یوه ادبي ټوټه واوروله.

د غونډې دریمه برخه مشاعره وه چې لاندې شاعرانو په کې خپل شاعرانو واورول: عاشق الله غریب، وږوکې حماسه رووفي، محمداجان یار، صمیم ساپی، مېرمن ګلرخ اشنا، علي محمد مجبور، مېرمن شاجان هاجره حرکت، نسیم ستوری، خالد ساپی، مېرمن شکیلا شغله، مصطفی اریـن، همت الله، ماشوم مینا قاضي خېل، مبارز څاپی او عزیز سرشار.

همدارنګه دې غونډې ته د افغانستان په ګډون د نړۍ له بېلا بېلو هېوادونو څخه لاندې د پښتو پیاوړو او نوموتو شاعرانو خپل شعرونه رالېږلي وو چې په غونډه کې واورول شول: شرر ساپی، دادمحمد رسا، لایق زاده لایق، شفیع الله بابرزی، بصیر بیدار ستوری، عبدالوهاب



کړې دے
د اولني ورځي نه واخله تر دې دمه د ټولنې ټولو ملګرو په یو نظم یو فکر او د یو مرام د پاره بې لوثه خدمت کړې دی.
دغه ملګری وزیر بادشاه جانان، امت بنګش، فیروز افریدی، ملتان خان همت، دلاور خان لیونې، نیاز محمد مهمند او بختیار شاکر د ډیری ستاینې حقدار دی
د ټولنې په نورو ملګرو کښې د موسیقۍ د څانګې استاذان هم د قدرور دی چه د تاسیس له ورځې د ټولنې سره راروان دی او خپله وظیفه په ډیر مینه تر سره کوی
په دوئی کښې حاجی نورزادین، اسلم صادق، محمد حلیم، شمشیر خان ارمانی او سرور شاه باچا جی شامل دی.
دا ټول ادیبان شاعران او فنکاران د پښتونخوا د بیلا بیلو سیمو سه تعلق لری او د خوند لهجې او څانګړی ثقافتی رنګونه لری چه د ټولنې وجود ئې لکه د ګلونو د ګلدستې په څیر خائیسته کړې دے.
په سرپرستو ملګرو کښې حاجی ګلزار خان، مکرم خان، نورالله بنګش، او نور ګن شمیر پښتانه ملګری د پښتو او پښتنو د پاره په کارکښې خپله ونډه برخه کوی.
د پاک پښتو ادبی ټولنې ټولو ملګرو خپل کلامونه په کتابی شکل کښې خپاره کړی دی چه تعداد ئې تر دیرشو سیوا دے
په پښتونخوا کښې د نادارو ادیبانو شاعرانو کتابونه هم چهاپوی او ورسره مرسته او مدد کوی
د قطر ادبی ټولنې په زیار دوه میاشتنۍ پښتو مجله هم خپریږی او دغسې د قطر یو بل تنظیم هم یوه پښتو مجله په باقاعدګۍ سره د پښاور نه خپروی.
د پښتونخوا ادیبان شاعران د پاک پښتو ادبی ټولنې کار ته د قدر په سترګه ګوری او وخت په وخت ئې په خپلو کالمونو او تبصرو کښې یادوی
د ادبی دوستانو دا ارمان دے چه د وطن هر وګری د په معاش موړ په صحت روغ، او د علم په کالو خائیسته شی.
چه په وطن کښې امن راشی، د ټوپکو او بارودو نه لاس په سر شی او د مینې او ورورولی یوه ښکلې پښتونخوا اباده شی

> **پاکه ربه جوړ زمونږه کړه وطن**
> **پښتانه په خپل وطن کې کړه واکمن**
>
> **چې د شپې پښتون بلبل پکې چغېږي**
> **راکه ستورو د اسمان لاندې ګلشن**
>
> **(ستوری)**



## *Opportunism*

### اروابناد صاحب شاه صابر

موږ ځنګ خلک ځنګ سړي یو
لېوني یو
چې د مینې په نوم تنګ شي
د بناپست په وطن جنګ شي
موږ خبر شو
زر شو ورشو
خپل ځانونه لولپه کړو
خپل کورونه خوار خسته کړو
لارې لړه کړو تالا کړو
غزا وکړو
توره وکړو
چې جنګ تم شي
هرڅه سم شي
نو څه داسې خلک راشي
چې د کومې راپیدا شي؟
خو د جنګ په وخت نه وي
د تاوانه خبر نه وي
خو د هر څه مدعیان شي
مشران شي، منصفان شي
میدان نیم کړي
هرڅه خپلو کې تقسیم کړي
زموږ مړي موږ له راکړي
موږ ته خپل مړي په شا کړي
***


## د ستوري استازي

کابل ........ استاد عبدالظاهر شکیب
ننګرهار ........ شفیع الله تاند
کونړ ........ نعمت الله کریاب
اسمار ........ طارق سالارزی
لغمان ........ امین الدین
باجوړ ........ سید اغا میاخېل
پېښور ........ ذبیح شفق
جرمني ........ نسیم ستوری



## پته:

د کونړ ولایت، د خاص کونړ ولسوالي، د تنر کلی (طلایي بانډه)، د ستوري د خپروني اداره

کوټوال: 0772931465
حیات 0774322484
کوچوان 0772935377


***

ستوری مجله د هېچا د لیکنې ننګه نه کوي، هرلیکوال ته بویه، چې د خپلې لیکنې سپیناوی پخپله وکړي
ستوری مجله به هغه لیکنې نه خپروي، چې اسلام، هېواد او ملي یووالي ته په زیان تمامېږي
***

# ستوری Stori

## خپلواکه، ادبي او کولتوري خپرونه

*****


د امتیاز څښتن:
**د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنه**

مسئوول مدیر: عرفان الله کوټوال
مرستیال: هدایت الله حیات

کتنپلاوی: بصیر بیدار ستوری، محمد داود صدیقي، عصمت الله ملنګ، فضل الهادي عاصم، میرسلام مجاور، کلرنک کوچوان

سلاکاره دله: مرستیال څېړونکی وجیه الله شپون، عبدالقیوم زاهد مشوانی، شفیع الله تاند
همکار غړي: رحیم الله خان، داود شاه داود، صادق فقیر، رضوان الله شپون



د " ستوري " استازي:
کابل: عبدالظاهر شکیب
ننګرهار: شفیع الله تاند
کونړ: نعمت الله کریاب
اسمار: طارق سالارزی
لغمان: امین الدین
باجوړ: سیداغا میاخیل
پېښور: ذبیح شفق
جرمني : نسیم ستوری